مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۵/۲۲

# د لوږې څونامي

## ۴۶مه‌برخه

**«ژوندي پاتې کېدو لەپاره د کوچنیانو "پلورل"، د ځینو افغان پلرونو سخت غوراوی»** (bbc)

د لـوږې نــه پــه ژوند پورې حیران بچي پــه څو دی؟
وحـشـتــه! راتــه وایــه، د انـسـان بـچـي پـه څـو دی؟

دا پـلار یـې چې پـه وږي نـس پــه دار راځـــړیـــدلی
دا چاودي لـوګـي پـښي ځیرې ګرېوان بچي په څو دی

(عبدالوهاب باور)

د لوږې څونامي، د افغانستان په هر ښار او کلي کې قولې باسي، غږ یې تر هر چا رسیږي، خو د دې فریاد د اوریدلو لەپاره د تولې نرۍ غوږونه کاڼه دي، د وږو د لښکرو دا فریادونه لکه لوګي د خدای دربار ته د عرض له پاره روان دي، چې وروبه رسیږي او که به په هوا کې محو شي؟

پر افغانانو باندې د لوږې د فشار په سبب د بدن غړو پلورل او د تولې کورنۍ د نس مړېدو له پاره د یو کوچني خرڅول کومه نوې خبره نه ده. زما ښه په یاد دي چې د هجري شمسي نېټې د پنځوسمې لسیزې د پیل په کلونو کې په ظاهرشاهي ارامۍ؟ کې په مرکزي افغانستان (غور، بادغیس او بامیان) چې د وچکالۍ او اقتصادي ستونزو په وجه خلک وکوچېدل او مخ په ښارونو راروان شول، په ښارونو کې یې خپل ماشومان خلکو ته وړیا ورکول؛ له هغې زمانې رانیولې، بیا د انقلابونو په وخت، یا د سرو، شنو او سپینو بادونو د رااولتلو په دوران کې هم د بدن د غړو پلورل او د کوچنیو نجونو خرڅول پرېمانه بېلګې لیدل شوي دي او دا دی اوس د لوږې څونامي د وحشت په انتها کې بیا د افغانستان د وږو د لښکرو فریادونه جګ شول او مجبوراً د اولادونو پلورلو ته یې مخه کړه.

په افغانستان کې بیا داسې حالت راغلی دی چې لوږه په ډېرې کورونو، کوڅو او ښارونو کې چیغې‌وهي او له هرې چیغې سره د وږو ژوند ته براالا ګواښ پېښوي. داسې ویل کېږي چې د کار د نشتوالي او په سیمه او نړۍ کې د سیاسي نظامي کشکړېپ په زیاتېدو سره، د لوږې‌څونامي څپې په زیاتېدو دي او لکه تل د لوږې څپې په لومړي ګام کې باداره مېرمنې او ماشومان ځپي.

دا د خوراک د نړیوال سازمان د مشر [خبره](#) ده چې په افغانستان کې «... پنځه میلیونه میندې او ماشومان خوارځواکۍ سره مخامخ دي.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځولنډيورځي مخکي (د ۲۰۲۶ ام کال د مى دولسمه) د خوراک د نړيوال سازمان مشر جان ايليف داسي وويل:

«د خوراکي توکو د مرستي دوام د ميليونونو افغان ښځو او ماشومانو د ژغورلو لار ده. خو له بده مرغه دا مرستي بندي شوي او د سلګونه زره ميندو او ماشومانو ژوند يې له خطر سره مخامخ کړی دی.»

«ژوندي پاتي کېدو لپاره د کوچنيانو "پلورل"، د ځينو افغان پلرونو سخت غوراوی»
د ميډيا دا او دې ته ورته سرليکونه به ځوک نه زوروي. زه خويي داسي ګڼم چي په همداسي يوحالت کي زه او زما کورنۍ او اولادونه راګير يوو او همدې ستونزو محاصره کړي يو.

په افغانستان باندې د لوږې ځونامي د ځپو بيا راتګ ډېر لاملونه لري، خو درې عمده دليلونه يې دا دي:

ـ پر ايران باندې د امريکا ـ اسرايلو د حملې په وجه د لارو بنديدل او د نړيوالو خيريه مؤسسو د مرستو نه رارسيدل،

ـ په ډلهايزه توګه له لرې او نږدې هېوادونو د ګڼشمير افغان مهاجرو بېرته راستونول،

ـ په افغانستان کي د کار نشتوال، کاريځواک لرو، کار نه ورته لرو.

نړيوال بانک په دومره شمېر د کډوالو بېرته راستنېدو ته په اشارې سره وايي:

«... افغانستان د تېرو دوو لسيزو د کډوالو د راستنېدو له سترو ځپو سره مخامخ دی. د بانک د اټکل له مخې، "د ۲۰۲۳ کال د سپټمبر او د ۲۰۲۵ کال د جولای ترمنځ، شاوخوا له ځلورو تر ځلور اعشاريه اووه ميليونه کسان هېواد ته راستانه شوي دي."
راپور وايي، دې حالت د کار پر بازارونو او عامه خدمتونو، په ځانګړي ډول په سرحدي سيمو او پر ښاري مرکزونو سخت فشار راوړی دی.»

په ناځاپي دول د دومره شمېر داسي خلکو بېرته راتګ چي استهلاکي ژوند لري او توليد هېڅ نه وي، نړيوالي مرستي هم بندي شي او پر واک باندې ناست مسؤلين هم د روزي مسأله خدای ته سپاري؛ نو د لوږې ځونامي ځپي به خود په داسي حالت کي قوي کېږي او وږي به د ګور تيارو ته ليږي.

حلاره دا ده چي د راستنو شوو خلکو بيا ځايپرځای کېدل سم مديريت شي، د راستنو شوو له پاره د ملګرو ملتونو ځانګړې شوې پيسي (۵۲۹ ميليون ډالر) په سمه توګه ولګول شي او تر ټولو مهمه دا چي کاري ځواک ته د کار زمينه برابره شي.

د ۲۰۲۶ ام کال د مى پرلومړۍ نېټه د کارګر ورځي په مناسبت وويل:

«د کار نړيوال سازمان د مې لومړۍ نېټې، د کارګرو نړيوالي ورځي په مناسبت ويلي، په افغانستان کي له ۵۰ تر ۷۰ سلنې هغه کسان چي د کار جوګه دي، وزګار او يا هم د اړتيا وړ عايد نه لري.»

دا خو ټولو ته ښکاره ده چي جګړې نه يواې د جګړې د پيښېدو پر محل هراړخيز منفي تاثيرات لري، بلکې په ګاونډيو، سيمې او نړيواله کچه يې منفي اغېز د خلکو ژوند ګډوډ کوي. د ايران او امريکا ــ اسرايل د جګړې په ترڅ کي د هرموز تنګي وتړل شوه، نور هېوادونه خو پرېږده، د افغانستان پر خلکو يې منفي تاثير کړی دی. د ملګرو ملتونو د خوراکي توکو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

اداره وايي چې د هرمز تنګي د تړل کېدو په وجه افغانستان ته د بشري مرستو رسول درې چنده ګران تماميږي.

پر افغانانو باندې د لوږې‌ځونامي د زوررورو ځپو وحشت د شعر په ژبه ـ د خلکو په درد، درمن شاعر عبدالوهاب باور ـ داسې انځور کړی دی:

د لـوږې نـه پـه ژوند پورې حيران بچی پـه څو دی؟
وحـشته! راتـه وايـه د انسـان بچـی پـه څـو دی؟

دا پـلار يې چې په وږې نس پـه دار راځـړېـدلی
دا چاودې لوڅې پښې ځيرې ګرېوان بچی په څو دی

دوزخـه! او جـنـتـه! جـمـهوريـتـه! امـارتـه !
پەخپلو والدينو ور تـاوان بچـی پـه څو دی؟

د کفر پـه نړی کـې د انسان خـرڅـول ګران دي
اسـلامـه! وه اسلامـه! د افغان بچی پـه څو دی؟

هـنـر بـې ايـمـاني ده او جـګړه قـهـرمانـي ده
کارتوسه! ته په څو يې د ايمان بچی په څو دی؟

مور هسې هم لوی کړي يو نوموړکي شهادت ته
باوره! ټول جهان کې دا ارزان بچی په څو دی؟




د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ